يو آواز کوونکی به آواز وکړي چې ستاسو -بدله دا ده- چې تل به روغ یاست او نه به ناروغه کېږئ، او تاسو به تل ژوندی یئ، نو هېڅکله به نه مړه کېږئ او ستاسو -بدله دا ده- چې تل به ځوانان یاست او هېڅکله به زوړوالی درباندې نه راځي، او ستاسو -بدله دا ده- چې تل به په نعمتونو کې یاست او هېڅکله به درباندې بېچارګي نه راځي

ابو سعيد الخدری او ابوهريرة رضي الله عنهما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايتوي چې هغه فرمايلي دي: «يو آواز کوونکی به آواز وکړي چې ستاسو -بدله دا ده- چې تل به روغ یاست او نه به ناروغه کېږئ، او تاسو به تل ژوندی یئ، نو هېڅکله به نه مړه کېږئ او ستاسو -بدله دا ده- چې تل به ځوانان یاست او هېڅکله به زوړوالی درباندې نه راځي، او ستاسو -بدله دا ده- چې تل به په نعمتونو کې یاست او هېڅکله به درباندې بېچارګي نه راځي» ، او دا د الله تعالى هغه وينا ده چې فرمايلي يې دي:{وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} [الأعراف: 43]. (يعنې او دوی ته به اواز وکړی شي چې دا جنت دی چې تاسو د (ده وارثان ګرځول شوي یئ، په سبب د هغو عملونو چې تاسو به کول.

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې يو اواز کوونکی به جنتيانو ته په داسې حال کې غږ وکړي چې دوی به په نعمتونو کې وي چې: تاسو به د تل لپاره په جنت کې یاست او هېڅکله به لږ هم نه ناروغه کېږئ، او تاسو به تل ژوندي یاست، هېڅکله به نه مړه کېږئ، اګر که خوب هم وي، چې يو ډول مړينه ده، او تاسو به تل ځوانان یاست، هېڅکله به نه زړېږئ، او تاسو به تل په نعمتونو کې یاست او هېڅکله به نه غمجن کېږئ او نه به له سخت سره مخ کېږئ، دا د الله تعالى هغه وينا ده چې فرمايي: {ونُودُوا أَنْ تلكم الجنة أورثتموها بما كنتم تعملون} [الأعراف: 43].(او دوی ته به اواز وکړی شي چې دا جنت دی چې تاسو د ده وارثان ګرځول شوي یئ، په سبب د هغو عملونو چې تاسو به کول).

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8341